اونیزه رغونه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د محرم ۱٦ مـه، ۱٤٤٧ هـ.ق کال
چنګاښ/سرطان ۲۱مه، ۱٤۰٤ هـ.ش

لومړی کال، پرلـه پسـي ۲۱ مـه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

په دې ګڼه کې لولئ:

- پکتیا: ګردیز ښار خطابي د صدیقي کلا سـیمه کې د کانکریټي سړک کار بشپړیدو ته نږدې شوی
- کاپیسا: پـروژه ترمیم و داغګیـری سرک صیاد الی چوک ګلدان آغاز ګردید
- هرات: کار پروژهٔ احداث کانال در سـمت جنوب تانک مرکز تا بادمرغان آغاز ګردید
- اروزګان: ترینکوټ ښار کې د پاک ښاري چاپېریال د رامنځته کېدو په هدف د ښار صفایی ترسره شوه
- بلخ: شاروال شهر مزارشریف کارکرد ها و فعالیت های آمریت ناحیه دوازدهم این شهر را ارزیابی کرد
- بلخ: کار ساخت یک منار در شهر مزارشریف آغاز ګردید
- فاریاب: جلسـه هماهنګی بـه هدف تحکیـم و تقویـت فرهنګ شهرنیشینی در میمنه برګزار شد
- هرات: کار پروژهٔ آسـفالت کوچهٔ زین‌العابدین حوض کرباس در ناحیهٔ هفتم شهر هرات آغاز ګردید
- فراه: فراه ولایت د ښـاري نظـم د کمیټې میاشـتنۍ غونډه ترسره شوه
- پروان: توزیع لباس‌های جدید به کارمندان تنظیف و سرسـبزی شاروالی چاریکار
- فراه: فراه ښـار کې د بیلابیلو کسبګرو له کړنو څخه کنټرول او څارنه ترسره شوه
- غزني: غزني ښـار د فروخي څلور لارې څخه تر کلاسبز پورې د بریښنایي ګروپونو ترمیم ترسره شو

جلال اباد ښـار نهمـه ناحیه کـې د ۱۱،۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د سـړک او ویالو جوړولو چارې پیل شوې

ننګرهار

کار پروژهٔ آسـفالت از پل کاریزک تا بازار شیدایی شهر هرات آغاز ګردیده است

هرات

قیرریزی فاز دوم سرک امارت در شـهر مزارشریف آغاز ګردید

بلخ

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

رغونه
اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د الفتح جامع مسجد تزئین او روښنايي چارې پیل شوې

مزار شریف ۱

د بلخ ولایت والي الحاج محمد یوسف وفا په ځانګړې هدایت او د مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت په هلو ځلو د کامګار څلور لارې په منځ کې د الفتح جامع مسجد تزئین او روښنايي چارې د مزارشریف ښاروالۍ له خوا پیل شوې.

غزني ښار د موی مبارک څخه تر حکیم صاحب پارک پورې سرک غاړې پلې لارې خلاصې شوې

غزني ۲

د غزني ښــاروالۍ ریاست د ښــاري نظم مدیریت له لوري د لومړی ناحیــې اړوند د موی مبارک ســیمې څخه تر حکیم صاحــب تفریحي پارک پورې د ســرک غــاړې پلې لارې له خندونــو او مزاحمتونــو پاکې او د خلکو د تــګ راتګ لپاره خلاصې شوې.

د ښــاري نظم مدیر حافظ احمد وویل دغه ګام مو د ښــاري نظم ترافیکي اســانتیاوو او د خلکو د تګ راتګ د اســانتیاوو لپاره پورته کړی تر څو هیڅ ډول خنډ او بې نظمي د ښــار په سړکونو او پیاده لارو کې شتون ونلري.

هغــه زیاته کړه چې یادې پلې لارې به د ښــاروالۍ له لوري دوامداره څارل کېږي او له ټولو ښــاریانو یې وغوښتل چې د عامه ځایونو د نظم او پاکوالي په ساتنه کې همکاري وکړي.

از کتــاره فلزی گلدان مقابل مقــام ولایت سرپل ناحیه دوم نظارت صورت گرفت

هیئت مؤظف ریاست شاروالی شهر سرپل در ادامه تلاش های خود جهت بهبود سیمای شــهری و افزایش فضای سبز، از کتاره فلزی گلدان‌های احداث‌شده در مقابل مقام ولایت سرپل نظارت به‌عمل آورد.

این نظارت به هدف بررسی کیفیت اجراء، استحکام ساخت و رعایت اصول زیبایی شهری صورت گرفت و هیئت مؤظف شاروالی ضمن ارزیابی وضعیت موجود، رهنمودهای لازم را در خصوص بهبود بخش‌هایی از نگهداری منظم گلدان‌ها به مسؤولین مربوطه ارائه نمود.

سرپل ۳

ترینکوټ ښــاریانو سره د ټولنیزو او فرهنګي ارزښــتونو د پیاوړتیا او د ښاري میشــتیدنې فرهنګ د دودولو په موخه ناسته ترسره شوه

اروزګان ۴

د ترینکوټ ښــاروالۍ مقام کې د ترینکوټ ښــاروال مولوي عبدالرشید هدایت الله په مشرۍ د ښار یو شمیر علماء کرامو، متنفذینو ، د اصنافو نماینده ګانو، ګذر وکیلانو، ځوانانو سره د ښــاري ټولنیزو ارزښــتونو د پیاوړتیا او د ښاري میشتیدنې فرهنګ دودولو په موخه ناسته ترسره شوه.

د غونــډې په پیل کې مولوي هدایت الله ګډونوالو ته د ښــه راغلاست د ویلو ترڅنګ ښاري فرهنګ د دودولو اړوند خبري وکــړې نوموړي زیاته کړه چې د یوه ښــار د پرمختګ لپاره د ښاري فرهنګ دودول د ښاریانو لپاره د ګډ اخلاقي، ټولنیز او ښاري اصولو باندې ځان برابرولو مجموعه ده، همدارنګه یې د ښاري ټولنیزو او فرهنګي ارزښتونو ته غاړه ایښودل د ښاري ژوند د ښــه والي، نظم، پاکوالي او پرمختګ لپاره یو بنسټیز ارزښت یاد کړی. او د ښــار د نظافت لپاره عامو ښاریانو ته د مســاجدو د ممبر له لارې عامه پوهــاوی ورانديې کول زیات ګټور وبلل.

اعلان داوطلبی

شاروالی مزارشریف از تمام داوطلبان واجد شرایط دعــوت می‌نماید تا در پروســه آفرگشــایی پروژه کانکریت ریزی سرک کارته صلح پروژه M عقب بلند منزل‌ها (ســاختمان افغانی) واقع ســاحه ناحیه هفتم شاروالی مزارشریف که به روش داوطلبی باز صورت می‌گیرد اشتراک نموده و آفرهای خویش را مطابق شرایــط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تــدارکات بعــد از نشر اعلان الی مــدت ۲۱ روز تقویمی ارائه نمایند.

مزار شریف

کارکنان مدیریت عمومی تنظیف و سرسبزی شاروالی چاریکار ولایت پروان با ماشینری شاروالی یک پارک در پارچه هفتم ناحیه پنجم را پاک‌کاری نمودند و همچنان گل‌ها و درختان را در نقاط مختلف شهر چاریکار آبیاری کردند.

پروان ۵

غزني ښــار د الجهاد جامع مســجد په انګړ کې د زرغونتیا چارې پیل شوې

غزني ۶

د غزني ښــاروالۍ ریاســت د زرغونتیا مدیریت له لوري د ښار دویمې ناحیې اړوند د الجهاد جامع مســجد په پراخ انګړ کې د شنو ساحو د رامنځته کولو په موخه تخم شیندنه ترسره شوه.

د زرغونتیــا مدیر محمد اصف وویل چــې د دې اقدام هدف د جوماتونو انګړونه زرغونول د محیطي ښکلا تامین د دوړو کمښت او د عامه فضاوو د سمون لپاره مناسب شرایط برابرول دي.

هغه زیاته کړه چې په یاد انګړ کې د واښو تخم شیندل شوی او د اړتیا وړ سرې اوبه او د ساتنې امکانات هم برابر شوي ترڅو دغه ساحه د ښاري خلکو لپاره یو شین تازه او ارام ځای شي.

ښاروالۍ ریاســت وایي چې دا ډول زرغونتیایي پروګرامونه به د ښــار په نورو ســیمو کې هم په دوامداره توګه تطبیق شي او له ښاریانو هم غواړي چې د شنو ساحو په ساتنه کې له دوی سره همکاري وکړي.

مهترلام ښار د پارکونو او ګلدانونو د خروبولو چارې په منظم ډول جریان لري

لغمان ۷

د مهترلام ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت له لوري د ښار د ښکلا او سرسبزه ساتلو په موخه د پارکونو، شنو ساحو او ښاري ګلدانونو د خروبولو چارې د ټاکل شوي پلان له مخې په منظمه توګه هره ورځ ترسره کېږي.

د یاد مدیریت مسؤولینو له لوري د دغو فعالیتونو مستقیم نظارت ترسره شو، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې خروبول، د نباتاتو ساتنه او د سرسبزۍ پروسه د معیارونو سره سم پرمخ روانه ده.

د مهترلام ښــاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مامور انجنیر ریحان الله اریان چې نن یې نظارت ترسره کوه وې ویل، د سرسبزۍ دا هڅې نه یوازې د ښــار ښــکلا زیاتوي، بلکې د ښاریانو رواني ارامتیا، د هوا پاکوالي او د ژوند چاپیریال ښه کولو کې هم مهم رول لري.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست
رغونه
اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

ګردیز ښـــار خطابي د صدیقي کلا ســیمه کې د کانکریټي سړک کار بشپړیدو ته نږدې شوی

پکتیا ۸

ګردیز ښـــار دربیمې ناحیې اړوند، خطابې سیمې صدیقي کلا کې د همدې سیمې اوسیدونکو لپاره پر یوه کانکریټي سړک کار په چټکۍ سره روان ده.

دغه ســړک (۷۱۲) متره اوږدوالی لري، چې کارونه یې د ګردیز ښـــاروالۍ تر بشــپړې څارنې لاندې په ښه ډول جریان لري.

بایـــد ووایو، چې د دې پروژې او ښـــار کې یو شـــمېر نورو لســـګونو پروژو لګښت، د ملګرو ملتونو دفتر یونپس لخوا ور کـــول کیږي، چـــې د دې ترڅنـــګ راتلوونکـــي کې خپلو امکاناتو ته په کتو د ښاروالۍ په چوکاټ کې یو شمېر نورو لویـــو او وړو پـــروژو د تطبیق زمنه کړې څو ښـــاریان ترې برخمن او د سیمې وزګارو ځوانانو ته د کار زمینه برابره شي.

جلسه جهت جمع آوری عواید شاروالی کندز تدویر گردید

کندز ۹

جلســه در مورد جمع آوری عواید شاروالی کندز به ریاست قـــاری گل نبی انس، شـــاروال کندز بـــا اشتراک آمرین و مدیران عمومی عواید و نواحی هشـــتگانه برگزار گردید.

در این جلسه در مورد چگونگی جمع آوری عواید شاروالی کندز و عرضهٔ خدمات بهتر شـــهری بحـــث و تصامیم لازم اتخاذ گردید. شاروال کندز گفت که عرضهٔ خدمات شهری براســـاس عواید این نهاد استوار بوده و لازم است در جمع آوری معیـــاری و قانونی عواید از چشـــمه هـــای عوایدی شـــاروالی کندز از هیچ گونه ســـعی و تلاش دریغ نشود و بیشتر از پیش تلاش های مؤثر صورت گیرد.

شاروال کندز پس از ارزیابی تطبق پلان عوایدی این نهاد گفت: عوایدی که پیش بینی گردیده به شکل درست جمع آوری و در چگونگی عرضهٔ خدمات معیاری برای شهروندان تغییرات قابل ملاحظه و مثبت به میان آید.

ســـمینار معلوماتی و توضیحی پیرامون طرح پروسه های مراجعین محور در شاروالی محموددراقی برگزار شد

بـــه منظور ارتقاء ظرفیت کارمنـــدان و بهبود روند خدمت رسانی، سمینار معلوماتی و توضیحی تحت عنوان "برنامه معلوماتی و تشریحی پیرامون طرح پروسه های مراجعین محور" در شاروالی محموددراقی برگزار گردید.

این برنامـــه با حضور مولوی عبیدالله حســـام شـــاروال محموددراقی، بریالی ابدالی رئیس ساده سازی پروسه های اداری اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی، آمر پروســـه تحلیل وتجزیه، کارشناس پروسه تحلیل و تجزیه و جمعی از کارمندان این اداره تدویر یافت.

مولوی عبیدالله حسام شاروال محموددراقی ضمن خوش آمدید گویی به حاضرین مجلس بر تطبیق همه جانبه مفاد این برنامه تأکید نمود و تعهد سپرد که اجراآت لازم صورت خواهد گرفت.

بریالی ابدالی، پیرامون اهداف، اهمیت و مزایای ســـاده ســـازی فورم ها معلومات مفصل ارائه کرد و نقش آنرا در بهبود کیفیت خدمات اداری برجسته ساخت.

آمر و کارشناس پروســـه تحلیل و تجزیه در مورد فورم ها، طرح ها و فلوچـــارت های مربوط به بخـــش های عواید، حکومتـــداری شـــهری، تخنیکـــی، ســـکتوری و نواحی توضیحات فنی و همه جانبه ارائه کردند.

همچنین پیشـــنهاداتی جهت معیاری ســـازی و تسهیل بیشتر پروسه ها مطرح گردید تا روند اجراآت اداری تسریع یافته، پیچیدگی فورم ها کاهش یافته و سطح شفافیت و تعامل میان نهاد های خدماتی و شهروندان افزایش یابد.

در پایان، اشتراک کننـــدگان با اظهار رضایت از محتوای غنی و کاربردی سمینار خواســـتار تداوم چنین برنامه ها شدند.

کاپیسا ۱۰

اعلان داوطلبی

ریاست شاروالی شـــهر سرپل در نظر دارد تا مطابق پلان انکشافی و تدارکاتی منظور شده خویش پروژه پرکاری و موزائیک کاری مقابـــل مارکیت تجارتی و رهایشـــی واقع ناحیه دوم شـــهری خویش را جهت داوطلبـــی آزاد با شرکت های خصوصـــی از طریق آفرگشایی عقد قرارداد نماید.

شاروالی شـــهر سرپل از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می‌نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه پرکاری و موزائیک کاری مقابل مارکیت تجارتی و رهایشی واقع ناحیه دوم شـــهری شرکت نموده و درخواستی های خویـــش را از تاریخ نشر اعلان الـــی ۳۰/۴/۱۴۰۴ هـــ.ش در مـــدت ۲۱ روز کاری به شـــعبه مدیریت خدمات و تدارکات ریاســـت شـــاروالی شهر سرپل تسلیم نموده و در آفرگشایی شرکت نمایند.

در صـــورت ضرورت بـــه معلومات بیـــشتر به شماره ۷۹۲۱۹۱۲۳۰ به تماس شده و حل مطلب نمایند.

سرپل

برای کارمندان ریاست شاروالی کندز حاضری الکترونیکی نصب گردید

کندز ۱۱

براساس هدایت کتبی ریاســـت عمومی انسجام امور شاروالی های اداره امور، حاضری الکترونیکی جهت مدیریت زمان و تردد کارمندان شاروالی کندز نصب و مورد استفاده قرار گرفت.

بـــه اثر ســـعی و تلاش قاری گل نبی انس، شـــاروال کندز این سیستم بجای حاضری کاغذی برای حاضری حدود ۲۸۸ کارمند این اداره نصب و تنظیم شده است.

مزارشریف ښـــار د فردوسي څلور لارې ته څېرمه ګلدان جوړولو چارې په چټکۍ سره رواني دي

د مزارشریف ښار ښکلا، ښېرازۍ او ښې بدلولو په موخه او د مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت په هلو ځلو د فـــردوسي څلور لارې ته څېرمـــه ګلدان جوړولو چارې د مزارشریف ښاروالۍ له خوا او د ابرار محمودي شرکت په مرسته په چټکۍ سره روانې دي.

د نوموړي ګلدان جوړولو کـــې د فلزي کټارو جوړولو او نصبولو، د ډبرو لګولو، د اوبو فوارې جوړول، د سرســـبزه او زینتي ګلانو ایښـــودل، د رنګارنګ څراغونه لګول او رنګمالۍ چارې شاملې دي چې رغنیزې چارې به یې د یوې میاشتې موده کې بشپړې شي.

د فردوسي څلور لارې ته څېرمه ګلدان په جوړولو سره به نوموړې سیمه کې ځانګړې ښکلا رامنځته شي.

مزار شریف ۱۲

ریاست شاروالی فیروزکوه ولایت غور، به منظور حفظ منابع پایدار عایداتی خود، پروژه ترمیم حمام مربوط این اداره را آغاز کرده است. حمام مذکور به عنوان یکی از ملکیت‌های مهم شاروالی، نقش قابل توجهی در تأمین عواید این اداره دارد و نگهداری آن از اولویت‌های جدی شاروالی فیروزکوه به شمار می‌رود.

غور ۱۳

ریاست شاروالی شبرغان برنامه حشرعمومی را بین ادارات و شهروندان شهر شبرغان راه اندازی نمود و برای پاکی و صفایی شهر با مشارکت اقشار مختلف از جمله وکلای گذر، قریه داران، کلان تران، اصناف، علمای کرام، جوانان و مردم شهر شبرغان تلاش می‌کنند.

شبرغان ۱۴

ګردیز ښار پاکوالي رغنده چارې روانې دي

پکتیا ۱۵

ګردیز ښاروالۍ تنظیفاتي پرسونل د ښار په مختلفو برخو کې کثافات او اضافي مواد راټولوي او بیا یې د خپلو نقلیه وسایطو په مرسته له ښاره لرې ټاکل شوي ځای ته رسوي.

ګردیز ښاروالۍ تنظیف مدیریت هڅه کوي څو د خپل زیارکښ تنظیفي پرسونل پر مټ د ورځې او شپې له مخې، ښار کې ټول تیت کثافات له سړکونو، پلې لارو او کثافات دانیو راټول کړي ترڅو ښار پاک او سرسبز وساتي.

دغه پرسونل د ورځې له مخې شل موټره کثافات له ښاره بهر انتقالوي، چې د نورو کالونو په پرتله یې د انتقال چارې څو برابره چټکې شوې.

ګردیز ښار پاکوالي رغنده چارې روانې دي

پکتیا ۱۶

کار پروژه‌های هنگرکاری، لندسکیپ، بلند بردن دیوار اطراف تعمیر اداری مسجد داخل هوتل و تشناب‌ها شاروالی فیروزکوه توسط شرکت‌های قراردادی با سرعت ادامه دارد. این پروژه‌ها در مراحل پایانی قرار داشته و قرار است به‌زودی به بهره‌برداری سپرده شوند.

د ننګرهار مرستیال والي، د جلال اباد ښاروال او مسؤولینو د ځلوېښت متره حلقوي سړک د لومړني پړاو د مسیر د پاکولو له چارو لیدنه وکړه



ننګرهار ۱۷

د ننګرهار مرستیال والي مولوي عزیزالله مصطفی، د جلال اباد ښاروال قاري بلال، مرستیال ښاروال مولوي محمد اسحاق سعید او ورسره مل پلاوي د جلال اباد ښار د ځلوېښت متره حلقوي سړک د لومړني پړاو د مسیر د کارونو نه لیدنه وکړه او مسؤولینو ته یې لازمې سپارښتنې وکړې.

مرستیال والي د کارونو په چټکتیا ټینګار وکړ، د سړک په مسیر د کورونو له مالکینو یې وځل بیا غوښتنه وکړه چې د یاد سړک د کارونو خنډونه ګرځي نوموړي یاد سړک د جلال اباد ښار د پراختیا په موخه غوره اقدام یاد کړ.

د جلال اباد ښاروال وویل: دا یوه حیاتي پروژه ده. د اوس لپاره یې د مسیر د پاکولو په برخه کې د ښاروالۍ له شته امکاناتو استفاده کوو. هڅه مو دا ده چې یاد حلقوي سړک په معیاري ډول ورغوو.

د جلال اباد ښاروالۍ د پلان امر انجینر احمد جاوید جهانمل د یادې پروژې په تخنیکي برخو مشرانو ته معلومات ورکړل او ډاډ یې ورکړ چې د ښاروالۍ تخنیکي ټیمونه په ټول توان سره د یاد سړک د لومړني پړاو په کارونو کې نه ستړي کېدونکي هلې ځلې کوي.

دغه ځلوېښت متره حلقوي سړک چې ټول ۲۱ کیلو متره اوږدوالی لري په دوو برخو کې به په اساسي ډول جوړ شي.

یاد سړک د اوومې ناحیې د سرخاب پل نه پیل د بهسودو تر پل پورې او د بهسودو پل نه د نهمې ناحیې تر سرخ دیوال سیمې پورې د ۱۳۹۲ کال ماسټر پلان له مخې ترتیب شوی.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو مؤسسو په مرسته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

انبار کثافات عقب مکتب تجربوی و عقب مارکیت کهنه شهر میوه چاریکار توسط ماشینری و کارکنان مدیریت عمومی تنظیف و سرسبزی شاروالی چاریکار پاک‌کاری گردید.

پروان ۱۸

جلال اباد ښار نهمه ناحیه کې د ۱۱،۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د سړک او ویالو جوړولو چارې پیل شوې

ننګرهار ۱۹

د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د UNOPS مؤسسې په تخنیکي همکارۍ د نهمې ناحیې په سرخ دیوال ساحه کې د ۸۱۳ مترو په اوږدوالي، د ۷ مترو په پلنوالي د سړک او د ۱۱۵۰ مترو په اوږدوالي د ویالو جوړولو کارونه پیل شول.

د جلال اباد ښاروالۍ د تخنیکي او سکټوري چارو رئیس انجینر وحیدالله مخلص، د ساختمان امر انجینر شوکت شاکر، د نهمې ناحیې امرګل منیر ارمان، د سړک جوړونې انجینر جان اغا کریمي او ورسره مل پلاوي د پروژې له کارونو له نږدې لیدنه وکړه او د شرکت مسؤولینو ته د کارونو د کیفیت او کمیت په تړاو سپارښتنې وکړې.

په یاده پروژه کې د سیمې ۹۲ تنه کاریګر کار کوي. ۱۱،۸ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي چې د نړیوال بانک له لوري ورکول کېږي. چې په راتلونکي پنځو میاشتو کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د سیمې اوسېدونکو د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یادې پروژې په ترسره کولو خوښي وښوده او په راتلونکې کې یې د لا نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانستان په ښارونو او کلیو کې د لنډ مهاله کاري فرصتونو او لومړنیو خدمتونو وړاندې کول او د داخلي بې ځایه شویو او له ګاونډیو هېوادونو څخه راستانه شویو کډوالو لپاره د کار کولو زمینه برابرول دي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو مؤسسو په مرسته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

غوربند د ښار بیلابیلو برخو کې تنظیفاتي چارې دوام لري

پروان ۲۰

هڅه دا ده چې د ښار واټونو څخه کثافات ټول، پر وخت انتقال او ښاریانو ته د ژوند پاک چاپیریال رامنځته شي.

د مهترلام ښاروالی نوبتي اداري ناسته ترسره شوه

د مهترلام ښاروالی د اداري د لا همغږۍ، خدمتونو د کیفیت لوړوني او د ښار د پرمختیايي چارو د تعقیب په موخه، د ښاروال مولوي رحمت الله شهامت په مشرۍ د ښاروالی نوبتي اداري ناسته ترسره شوه.

یاده ناسته چې د ښاروالی له ټولو امرینو او مدیرانو سره وشوه، په پیل کې ښاغلي ښاروال د تېرې ناستې راپور واورېد او د ترسره شویو فعالیتونو ارزونه یې وکړه.

ښاروال د هغو چارو یادونه وکړه چې ښه پرمختګ یې کړی و او په ورته وخت کې یې پر ځینو نیمګړتیاوو هم رڼا واچوله، ترڅو اصلاحات پکې راشي.

ورپسې، د ناستې ګډونوالو د ښار اړوند یو شمېر مهمو موضوعاتو، لکه د ښاري خدمتونو پراختیا، نظم، پاکوالي، د کار د جواز د ورکړې او د خلکو ستونزو ته د ژر او مؤثر ځواب خرنګوالي په اړه تفصیلي بحثونه وکړل.

همداراز، د مجلس په جریان کې یو شمېر امرینو او مدیرانو ته مشخصې دندې وسپارل شوې، ترڅو تر بلې ناستې پورې یې بشپړې کړي او خپل راپور له رهبرۍ سره شریک کړي.

د یادونې وړ ده چې د مهترلام ښاروالی مشرتابه ټل هڅه کوي چې د منظمو ناستو له لارې نه یوازې اداري کارونه همغږي کړي، بلکې د ښاریانو لپاره شفاف، مؤثر او پر وخت خدمتونه وړاندې کړي.

شاروالی میمنه ولایت فاریاب به ارزش ۳۲ میلیون افغانی یک هوتل عروسی را در ناحیه هفتم این شهر اعمار نموده است که ظرفیت گنجایش ۱۲۰۰ تن را در یک زمان دارد.

فاریاب ۳۲

کمیته انضباط شهری و مدیریت تنظیم مارکیت‌های شاروالی چاریکار، دستفروشان شهر چاریکار را در مکان‌های مشخص و نزدیک به بازار جابجا نمودند تا بازار این شهر بروی ترافیک شهری باز باشد و دستفروشان و کراچی‌داران بتوانند به کار خود ادامه دهند.

پروان ۳۳

ترینکوټ ښاروال : د زیاتي ګرمۍ سره بیا هم نیالګي له تندې خوندي ساتل شوي او خړوبونه یې پر وخت ترسره کیږي

د ترینکوټ ښاروال مولوي عبدالرشید هدایت الله د یاد ریاست د رسنیز دفتر سره په خپلو خبرو کې وویل. ترینکوټ ښار ټول تفریحي پارکونه د زیاتي ګرمۍ سره پر وخت او په منظم ډول خړوبیږي او نیالګي له تندې خوندي ساتل شوي. نوموړي زیاته کړه چې د یاد ریاست د ښار ټولو ښاریانو ته د تفریح او ورځنیو فعالیتونو لپاره د ښار د زرغون چاپېریال د برابرولو په موخه ټل هڅه کړې چې د ښار د نیالګیو پوره ساتنه او پالنه وکړي. څو ښاریان په یو پاک او زرغون ښار کې خپل ورځني فعالیتونه ترسره کړي.

پروژه ترمیم و داغگیری سرک صیاد الی چوک گلدان آغاز گردید

شاروالی محمودراقی در راستای تحقق برنامه های انکشافی و ارائه خدمات مؤثر شهری، به منظور بهبود وضعیت ترانسپورت شهری و تسهیل رفت‌وآمد شهروندان عزیز پروژه ترمیم و داغگیری سرک صیاد الی چوک گلدان را رسماً آغاز خواهد کرد.

با آغاز این پروژه، مسیرهای اساسی ترمیم و بازسازی خواهد شد تا سهولت بیشتری برای وسایط نقلیه و عابران فراهم گردد. همچنین رهبری شاروالی محمودراقی از همکاری مردم در جریان این روند قدردانی نموده و اطمینان میدهد که تلاش ها برای بهبود زیربنا های شهری همچنان ادامه خواهد داشت.

با عملی شدن این پروژه، گام مؤثری در راستای توسعه متوازن شهری و افزایش رضایتمندی شهروندان برداشته خواهد شد.

جلسه نوبتی اداری شاروالی شهر ایبک برگزار شد

جلسه نوبتی اداری شاروالی شهر ایبک ولایت سمنگان تحت نظر قاری خلیل الرحمن رحمانی، معاون مالی اداری با حضور کارمندان اداری شاروالی شهر ایبک برگزار گردید.

در این جلسه در مورد فیصله های جلسه گذشته، چالش‌ها، پروژه های انکشافی، بودجه، چشمه های عوایدی و تشکیل سال مالی ۱۴۰٤ هجری خورشیدی شاروالی شهر ایبک، عرضه خدمات مؤثر برای شهروندان شهر ایبک بحث و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

کارکنان خدماتی و تنظیفی اداره شاروالی ولسوالی رستاق ولایت تخار با آبیاری درختان داخل گلدان های مسیر سرک عمومی ۴۰ متره، گام مؤثری در راستای بهبود محیط زیست شهری برداشته‌اند. شاروالی رستاق از شهروندان خواست تا در حفظ پاکی، زیبایی و سرسبزی شهر سهم فعال بگیرند و برای ایجاد محیط سالم همکاری نمایند.



د دواطلبی خبرتیا

لښکرګاه ښاروالی غواړي خپل اړوند ملکیت چې د بُست جادې او ختیځ لوري او د هلمند مستوفیت مخامخ موقیعت لري (جمنازیم) د قرارداد په توګه کرایه ورکړي. هرڅوک چې یې د کرایې د قرارداد خیال ولري خپل غوښتنلیکونه دې د اعلان د نشر د نېټې څخه تر (۲۱) ورځو پورې د لښکرګاه ښاروالی د املاکو لوی مدیریت ته وسپاري او خپله دې د داوطلبۍ په مجلس کې د ګډون لپاره په (۱۴۰۴/ ۵/ ۱۴) نېټه د سهار پر لسو بجو لښکرګاه ښاروالی ته حاضر شي.

نوټ: (۱۰۰۰۰۰) سل زره افغانۍ د تضمین په ډول نقد اخیستل کیږي.

هلمند ولایت

رغونه
اونیزه

د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

کار پروژهٔ آسـفالت از پل کاریزک تا بازار شـیدایی شهر هرات آغاز گردیده است



هرات ۲۸

کار پروژهٔ آسفالت لین شمال سرک از پل کاریزک تا بازار شـیدایی، به طول ۲۲۰۰ متر، در عرض ۸ متر، به هزینهٔ حدود ۲۷ میلیون افغانی از بودجهٔ انکشـافی شـاروالی هرات، واقع در ناحیهٔ پانزدهم شـهر، از سوی ملا نعمت الله حسن‌صاحب، شاروال هرات افتتاح گردید.

در محفل افتتاحیه این پروژه، رئیس تخنیکی و مسـلکی، آمـر ناحیـهٔ پانزدهم، آمر نظـارت و ارزیابی شـاروالی، بزرگان، وکلای

گذر، رؤسـای شوراهای محل و شماری از مسئولان بخش های مربوطه دیگر شاروالی نیز حضور داشتند.

این پروژه توسـط شرکت سـاختمانی و سرکسـازی کهن کاران، تبطیق می گردد و قرار اسـت طی ٦ ماه تکمیل و به بهره برداری سپرده شود.

در همین حال، شماری از باشندگان ناحیهٔ پانزدهم شهر بـا اسـتقبال از آغاز کار ایـن پـروژه می‌گویند که سرک یادشده سال‌ها در وضعیت خراب قرار داشت و مردم را در رفت‌وآمد با مشـکلات زیادی مواجه کرده بـود. آنان می افزایند که اکنون با ساخت این سرک، از بسیاری حادثات ترافیکی جلوگیری شـده و سـهولت‌های زیادی در رفت و آمد شهروندان فراهم می‌گردد.

کار پروژهٔ احداث کانال در سـمت جنـوب تانک مرکز تا بادمرغان آغاز گردید

هرات ۲۹

کار پروژهٔ احداث کانال سرپوشیده، در سمت جنوب جادهٔ تانک مرکز تا بادمرغان، به طول ۸۰۰ متر و با ابعاد (۱.۳۰ × ۱.۱۰)، به هزینهٔ حدود ۵.۵ میلیون افغانی از بودجهٔ انکشـافی شاروالی هرات، از سوی ملا نعمت‌الله حسن‌صاحب، شاروال هرات افتتاح گردید.

در محفل افتتاحیه این پروژه رئیس تخنیکی و مسلکی، آمر ناحیهٔ چهارم، آمر نظارت و ارزیابی شاروالی، بزرگان، وکلای گذر، رؤسای شـوراهای محل و شماری از مسئولان مربوطه دیگر این اداره نیز حضورداشتند.

این پروژه که توسط شرکت ساختمانی هرات تاور تطبیق میگردد قرار است طی سه ماه تقویمی تکمیل و به بهره برداری سپرده شود.

جلسه بورد مشـورتی ریاست شــاروالی انجیل ولایت هرات به ریاست مولوی نعمت‌الله رحیمی شاروال انجیل برگزار شـد. در این نشسـت که با حضـور نمایندگان اصنـاف مختلف و اعضـای کمیته‌هـای مرتبط برگزار گردید، روی پروژه‌های انکشـافی، عوایدی و اجتماعی بحث صـورت گرفت و بـرای حل مشـکلات و ایجاد سهولت‌ها تدابیر لازم اتخاذ گردید.

هرات ۳۰

مسؤولان شاروالی بندر تورغندی ولایت هرات در دیدار با صنف تربوزفروشان این شهر، روی چگونگی خرید و فروش تربوزهای واردشده از قریه‌جات همجوار نمودند و توصیه های لازم برای جلوگیری از احتکار به فروشندگان داده شد.

هرات ۳۱

شــاروالی زرنج ولایت نیمروز کمک‌های بشردوســتانه باشنده‌گان ولایت فراه را تسـلیم و به کمیته بازگشت مهاجرین انتقال نموده داده است.

این کمک‌ها که شامل ۲۵۰۰ قرص نان خشک و ۳۰۰۰ بوتل آب معدنی می‌باشد، از سوی شاروالی فراه به شهر زرنج انتقال یافته و به شاروالی زرنج سپرده شد. سپس شاروالی زرنج این کمک‌ها را به کمیته خدمات مهاجرین جهت توزیع تسلیم کرد.

کمک های غذایی باشندگان شهر فراه به مهاجر

نیمروز ۳۲

ترينکوټ ښار کې د پاک ښاري چاپېريال د رامنځته کېدو په هدف د ښار صفايي ترسره شوه

اروزګان ۳۳

د ترينکوټ ښاروالۍ د تنظيف او سرسبزۍ مديريت لخوا د پاک ښاري چاپېريال د رامنځته کېدو په هدف د ښار يو شمير برخو صفايي ترسره شوه. چې له مخې يې راټول شوي ۹ موټره کثافات د ښار څخه بهر محفوظ ځای ته انتقال شول.

د ياد رياست د تنظيف او سرسبزۍ مسؤولين وايي چې؛ په يادو فعاليتونو کې د ناوا انا او احمدشاه بابا د عمومي جادو ترڅنګ د سـرک غاړو غټي کثافات داني، پلي لارې، واټونه په بشپړ ډول پاکې او د انتقالولو پر مهال ټول جامد کثافات د ځانګړو تنظيفي وسايطو له لارې له ښار څخه لرې ځای ته انتقال او په هغه ځای کې د چاپېريالي اصولو مطابق محفوظ شول؛ نوموړي زياته کړه چې دا فعاليتونو يې د ښـار پاکوالي د خلکو روغتيا او د ښاري نظم د ټينګښت په موخه ترسره کړل.

جلسه داوطلبی بازار نخاس (مال بازار) واقع در ناحیه نهم شهر مزار شریف برگزار شد

مزار شریف ۳۴

جلسه داوطلبی بازار نخاس (مال بازار) واقع در مربوطات ناحیه نهم شـهر مزار شریف، به سرپرستی حافظ عبدالرحمن همت شاروال و با اشتراک معاون شاروالی، مشاور شرعی و حقوقی، آمر تفتیش و هیئـت مؤظف داوطلبی شـاروالی مـزار شریف و نمایندگان شرکت های داوطلب برگزار گردید.

حافظ عبدالرحمن همت شاروال مزارشریف ضمن خوش آمدید به اشتراک کنندگان جلسـه، از داوطلبان خواسـت تا اصول داوطلبی و اطمینان داد که در پروسه داوطلبی شفافیت تامین میگردد.

در اخیر پروسه داوطلبی برگزار گردید و در جریان آن عبدالخلیل ولـد عبدالجلیل به مبلغ ۲۳ میلیون ۴۰ هزار افغانی برنده این دواطلبی شناخته شد.

این جلسه با تلاوت قرآنکریم آغاز و با دعای خیر به اختتام رسید.

رغونه
اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

شاروال شهر مزارشریف کارکرد ها و فعالیت های آمریت ناحیه دوازدهم این شهر را ارزیابی کرد

حافظ عبدالرحمن همت شاروال شهر مزارشریف کارکرد ها و فعالیت های مولوی مطیع الله فاتح آمر و کارمندان ناحیه دوازدهم شهر را به منظور ارائه خدمات بهتر برای شهروندان و چگونگی جلوگیری از ساخت و ساز بلند منزل های خود سر و جمع آوری عواید ارزیابی کرد.

در جریان ارزیابی شاروال شهر مزارشریف گفت، در کشور امنیت سر تا سری حاکم است و زمینه خوب فراهم شده تا برای آبادی و پیشرفت کشور یکجا باهم کار کنیم، به نظام اسلامی وفادار باشیم، از فساد اداری جداً خودداری کنید.

حافظ عبدالرحمن همت، در ادامه این بازدید به آمر و کارمندان ناحیه دوازدهم هدایت تا وظایف خویش را مطابق اصول و مقررات شاروالی به پیش برده و از غفلت وظیفوی جداً خودداری نمایند.

مولوی مطیع الله فاتح آمر ناحیه دوازدهم شهر مزارشریف نیز اطمینان داد تا مسئولیت خویش را مطابق اصول و مقررات شاروالی به پیش برده و برای ارایه خدمات بهتر به شهروندان تلاش های بیشتر نماید.

قیرریزی فاز دوم سرک امارت در شهر مزارشریف آغاز گردید

به منظور رشد اقتصادی، ایجاد تسهیلات برای عبور و مرور وسایط نقلیه و شهروندان و توسعه معیاری شهر مزارشریف کار قیرریزی فاز دوم سرک امارت به هزینه بیش از ۴۰ میلیون افغانی با حضور حافظ عبدالرحمن همت شاروال مزارشریف در پارک های صنعتی ناحیه ششم شهر مزارشریف آغاز گردید.

این پروژه شامل قیرریزی فاز دوم سرک به طول ۱۴۰۰ متر و عرض ۱۴ متر، ساخت گلدان های وسط سرک، خط اندازی روی، ساخت شش پلچک معیاری در مسیر سرک می‌باشد، که از بودیجه انکشافی شاروالی مزارشریف تمویل میگردد.

حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف در جریان آغاز قیرریزی فاز دوم سرک امارت برای شرکت قراردادی توصیه نمود، تا پروژه مذکور را به صورت اساسی، برابر با معیار های تعیین شده و مطابق شرطنامه قرارداد تطبیق نماید.

همچنان آقای همت، برای تیم انجنیری شاروالی مزارشریف هدایت سپرد، از روند قیرریزی فاز دوم سرک امارت به صورت جدی نظارت نمایند تا پروژه متذکره در وقت معینه تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

جلسه هماهنگی با مالکین مارکیت ها جهت بهبود وضعیت بازار ده بابا علی برگزار شد

شاروالی محمودراقی به منظور تأمین نظم بیشتر در بازارها و رسیدگی مؤثر به مشکلات شهروندان، جلسه هماهنگی را با حضور مدیر ناحیه اول و اشتراک مالکین مارکیت های بازار ده باباعلی در تالار جلسات شاروالی محمودراقی برگزار گردید.

در این جلسه در مورد وضعیت خدمات شهری و سهولت برای مراجعین بحث صورت گرفت و مسئولین شاروالی ضمن قدردانی از همکاری مالکین مارکیت ها از آن‌ان خواستند که در محدوده هر پنج دکان، یک باب تشناب اعمار نمایند تا از این طریق زمینه سهولت بیشتر برای شهروندان فراهم گردد.

شاروالی محمودراقی با تأکید بر تداوم چنین جلسات، هدف از آن را تقویت مشارکت مردم در بهبود امور شهری و افزایش سطح همکاری میان اداره شاروالی و مردم عنوان نمودند.

کار ساخت یک منار در شهر مزارشریف آغاز گردید



کار ساخت یک منار در مسیر سرک حلقوی ناحیه ششم شهر مزارشریف توسط شاروالی مزارشریف با همکاری شرکت فیصل خراسانی به منظور زیبائی شهر، تنظیم ترافیک و جلوگیری از ازدحام با حضور حافظ عبدالرحمن همت شاروال مزارشریف، آمر ناحیه ششم، نماینده شرکت فیصل خراسانی، وکلای گذر و باشندگان شهر آغاز گردید.

حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف در جریان آغاز این پروژه گفت: شاروالی مزارشریف در نظر دارد در سال جاری به تعداد ۱۰ منار را در ساحات مختلف شهر مزارشریف به همکاری سکتور خصوصی اعمار نماید.

نماینده شرکت فیصل خراسانی وعده سپرد که کار اعمار منار مذکور در مدت ۲۰ روز کاری تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.

از سوی دیگر شهروندان مزارشریف از کارکردها و فعالیت های شاروالی استقبال نمودند و آنرا جهت آبادی و توسعه معیاری شهر مهم خواندند.

جلسه هماهنگی به هدف تحکیم و تقویت فرهنگ شهرنیشینی در میمنه برگزار شد

جلسه هماهنگی به هدف تحکیم و تقویت فرهنگ شهرنیشینی تحت عنوان "هماهنگی وکلای گذر، اصناف شهری و علمای کرام" به ریاست الحاج مفتی گل‌احمد مبشر، شاروال میمنه در تالار جلسات شاروالی برگزار گردید.

در این جلسه علما کرام، نماینده آمریت مبارزه با مواد مخدر، اعضای بورد مشورتی، وکلای گذر و نمایندگان اصناف شهری حضور داشتند.

شاروال میمنه بر رعایت فرهنگ شهرنشینی تأکید کرد و به موارد رفع انسداد پیاده‌روها، نظافت، وسایط نقلیه، تخلیه بار موتر های کلان و نصب گروپ های تنویری در مقابل دکاکین بەصورت مفصل صحبت نمود.

شاروال میمنه همچنین یادآور شد که شاروالی متعهد به اجرای برنامه‌های گسترده عام‌المنفعه به‌منظور بهبود کیفیت زندگی شهروندان است و از حاضرین خواست تا در راستای نظم، توسعه، زیباسازی و آبادانی شهر و خانه خویش سهم فعال و مسئولانه داشته باشند.

نماینده آمریت مبارزه با مواد مخدر درباره اضرار استفاده از مواد مخدر و پیامدهای شرعی و صحی آن صحبت نموده و تأکید کرد که مبارزه با این پدیده تنها مسؤولیت آمریت مربوطه نیست، بلکه وظیفه‌ی ایمانی و انسانی هر فرد است.

الحاج احمد جاوید، معاون بورد مشورتی نیز در زمینه چالش‌ها و راه‌حل‌های شهری، سخنان ارزنده ایراد نمود و هر کدام به نمایندگی از اقشار مختلف جامعه به اداره شاروالی وعده همکاری سپردند.

شاروالی تالقان ولایت تخار در یک اقدام نظارتی، از ذبح غیر مجاز مواشی در مکان‌های نامناسب توسط برخی قصابان جلوگیری کرد. این عمل که بدون رعایت اصول صحی و محیط زیستی انجام می‌شد، باعث بوی تعفن و نارضایتی شهروندان شده بود. مسئولان هشدار دادند که ذبح باید در مسلخ‌گاه رسمی انجام شود، در غیر آن برخورد قانونی صورت می‌گیرد.

اسعداباد ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ په برخه کې د ښاروالۍ رواني هڅې

د اسعداباد ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت کاري برخي کارکوونکي د ښار په بیلابیلو برخو کې پخپلو فعالیتونو بوخت دي.

ښاروالۍ هڅه کوي چې د ښاري ساحې څخه کثافات ټول او ښاري چاپیریال ښیرازه شي.

آفرگشایی پروژه اعمار کانال دو طرف قلعه زوریان و پوپلزایی ها در ناحیه سیزدهم شاروالی هرات به طول ۷۷۰ متر تحت نظر هیئت های موظف (سه شنبه ۱۲محرم الحرام) در جلسه علنی با حضور داشت مدیر عمومی قراردادها، مسولین بخش های مربوطه و نمایندگان شرکت های داوطلب در سالون جلسات اداره شاروالی هرات صورت گرفت.

فراه ښاروال د عوایدو برخې له مدیرانو سره ناسته ترسره کړه

د فراه ښاروال مفتي سردار محمد مرصاد په مشرۍ عوایدو برخې له مدیریتونو سره عوایدو د راټولولو په موخه ناسته ترسره کړه.

ښاروال مرصاد د عوایدو په راټولولو ټینگار وکړ او زیاته یې کړه چې خومره مو د عوایدو راټولولو برخه پیاوړې وي، نو ښاریانو ته به عامه خدمتونو په وړاندې کولو کې لمنه پراخه وي.

د ښاروالۍ عوایدو مدیر ښاغلي مولوي راشد د چارو د همغږۍ، عوایدو لوړوالي او یو شمېر نورو مهمو موضوعاتو په تړاو بحث وکړ او د تحصیلي کارکوونکو د ورځنیو چارو د چټکتیا په برخه کې ډاډ ورکړ.

فراه ۴۳

کار پروژهٔ آسفالت کوچهٔ زین‌العابدین حوض کرباس در ناحیهٔ هفتم شهر هرات آغاز گردید

کار پروژهٔ آسفالت کوچهٔ زین‌العابدین حوض کرباس، به طول ۳۴۵ متر و عرض ۸ متر، همراه با احداث کانال‌های دو طرف آن، به هزینهٔ مجموعی بیش از ۹.۵ میلیون افغانی از بودجهٔ انکشافی شاروالی هرات، در ناحیهٔ هفتم این شهر، توسط ملا نعمت‌الله حسن‌صاحب، شاروال هرات افتتاح و آغاز گردید.

محفل به همین مناسبت با حضور داشت مسؤولان شاروالی، بزرگان، وکلای گذر، رؤسای شوراهای محل و نماینده شرکت تطبیق کننده این پروژه برگزار گردید.

مسئول شرکت قراردادی پروژه اطمینان می‌دهد که این پروژه به گونه معیاری و استندرد طی سه ماه، تکمیل و به بهره برداری سپرده میشود.

همزمان، شماری از باشندگان محل با ابراز خرسندی از آغاز کار این پروژه اظهار می‌دارند که با تکمیل آن سهولت های زیادی در رفت‌وآمد باشندگان محل به وجود آمده و مشکلات فصل بارندگی نیز مرفوع خواهد شد.

کار پروژهٔ آسفالت جاده از فلکهٔ دوم بکرآباد تا جادهٔ بهارستان مربوط نواحی سوم و چهارم شهر هرات آغاز گردید

کار پروژهٔ آسفالت جاده از فلکهٔ دوم بکرآباد الی جادهٔ بهارستان، همراه با احداث جویچه‌ها و پلچک‌های آن، به طول ۷۲۰ متر و عرض ۱۰.۵ متر، مربوط به نواحی سوم و چهارم شهر، به هزینهٔ مجموعی بیش از ۱۰.۵ میلیون افغانی از بودجهٔ انکشافی شاروالی هرات، از سوی ملا نعمت‌الله حسن‌صاحب، شاروال هرات، با حضورداشت، رئیس تخنیکی و مسلکی، آمران نواحی سوم و چهارم، آمر نظارت و ارزیابی شاروالی، بزرگان، وکلای گذر، رؤسای شوراهای محل توسط شرکت ساختمانی انکشاف غرب، به گونهٔ رسمی افتتاح و آغاز گردید.

مسئول شرکت قراردادی پروژه، تعهد سپرده است که پروژه طبق قرارداد و طی چهار ماه به‌گونهٔ معیاری تکمیل و به بهره برداری سپرده می شود.

از سوی دیگر، شماری از باشندگان نواحی مربوطه با ابراز خرسندی از آغاز کار این پروژه، می‌گویند که تطبیق آن نقش مهمی در کاهش ازدحام، جلوگیری از تجمع آب‌ها در اثر بارندگی و ایجاد سهولت در رفت‌وآمد ایفا خواهد کرد.

جلسه نوبتی اداری شاروالی قلعه نو برگزار شد

جلسه نوبتی اداری شاروالی قلعه نو ولایت بادغیس تحت نظر ملا راز محمد ذاکر شاروال و با حضورداشت کارمندان اداری این شاروالی برگزار گردید.

در این جلسه در مورد فیصله های جلسه قبلی مرور و طبق اجندا ترتیب شده بحث وتبادل نظر صورت گرفت وپیرامون موضوعات مربوط به شاروالی بحث و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

جلسه با دعایه خیر خاتمه یافت

برنامه آموزشی پروسه های تسهیل شده در شاروالی بازارک دایر گردید

ریاست ساده سازی پروسه های اصلاحات اداری و خدمات ملکی اداره امور در هماهنگی با ریاست عمومی انسجام امور شاروالیها پس از بررسی، پروسه های مراجعین محور را شناسایی و ساده سازی نمودند.

به منظور تطبیق بهتر پروسه های مراجعین محور و تشریح این پروسه ها در شاروالی، اصلاحات اداری و خدمات ملکی تحت ریاست ریس ساده سازی پروسه ها به شاروالی بازارک سفر نموده است و طی یک برنامه آموزشی یک روزه رهنمودهای جدید را به کارمندان این اداره تشریح نمودند.

پروسه های ساده شده در بخش های مختلف مراجعین محور شاروالیها از جمله، حکومتداری شهری، تخنیکی و مسلکی، جلوگیری از ضیاع وقت مراجعین و شهروندان و اجراآت بموقع توسط مسؤولین در قالب فورم ها ترتیب و تصحیح گردید که مرعی الاجرا می باشد.

پنجشیر ۴۷

به هدف بلند بردن سطح رعایت حفظ‌الصحه و تطبیق مقررات شهری، مدیریت ناحیه دوم شهر ایبک سمنگان با همکاری مدیریت تنظیم امور مارکیت‌ها برنامهٔ نظارت میدانی را بر اصناف مختلف اجرا نمود که در این برنامه خبازی‌ها، قصابی‌ها، هوتل‌ها و حمام‌های مورد نظارت و ارزیابی قرار گرفتند.

رغونه
اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

پارک مرکزی شاروالی شهر ایبک ولایت سمنگان واقع ناحیه اول شـهر ایبک توسـط کارکنـان خدماتی این ریاست جهت سرسبزی و مراقبت به گونه کامل آبیاری گردید.

سمنگان ۴۹

فراه ولایت د ښـاري نظم د کمیټې میاشتنۍ غونډه ترسره شوه

فراه ۵۰

د فراه ولایت د مرسـتیال والي مولوي رحیم الله محمود په مشرۍ د ښاري نظم د کمیټې میاشتنۍ غونډه ترسره شوه، چـې پکـې د ولایـت مقـام د دفتر رئیس رحمـت الله غورځنګ، د فراه ښـاروال مفتي سردار محمد مرصاد او د اړوندو ادارو مسؤولینو ګډون کړی وو.

په یاده غونډه کې د فراه ښـار د ښاري نظم د ښه‌والي په موخه پر مهمو موضوعاتو هر اړخیزې خبرې وشوې.

ګډونوالو د ښـار د پاکـوالي، د غیرې قانوني جوړښـتونو مخنیوي، د ټرافیکي نظم ټینګښت، د سړکونو او مارکیټونو د منظم کولو او د ښـاریانو د اسـانتیاوو د برابرولو په تړاو خپلې نظریې او وړاندیزونه شریک کړل.

توزیع لباس‌های جدید به کارمندان تنظیف و سرسبزی شاروالی چاریکار

ریاست شـاروالی چاریکار ولایت پروان، طی مراسمی رسـمی به هدف نظم‌دهی، یک‌دسـتی و ایجاد هویت مشخص کاری، لباس‌های جدید با رنگ سبز رشقه‌ی را به کارمندان بخش تنظیف و سرسـبزی توزیع کرد. این اقدام بر اسـاس هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی و با حضور شاروال و مسئولان مربوطه صورت گرفت تا کارکنان با ظاهری منظم و متناسب به خدمات شهری ادامه دهند.

کاپیسا ۵۱

فراه ښار کې د نیالګیو د خړوبولو چارې جریان لري

فراه ۵۲

د فراه ښـاروالۍ د سرسـبزۍ مدیریت له لوري، د ښار د ښکلا د ښـاري چاپېریال د پاک ساتلو په موخه، د نیالګیو د خړوبولو چارې د یو منظم پلان له مخې هره ورځ جریان لري.

د یاد مدیریت مدیر ښـاغلی احمد جواد وایي، چې د ښار په بېلابېلو سیمو کې د نیالګیو خړوبولو ته ځانګړې پاملرنه کېږي او هره ورځ له دغـو چارو څخه نظارت ترسره کېږي. نومـوړی زیاتوي چې اړوند کارکوونکو ته د نیالګیو د پالنې او ساتنې اړوند لازمې لارښوونې هم کوي.

ښـاغلی جـواد زیاتوي: چـې د نیالګیو خړوبـول د ټولو ښاریانو ګډ مسـؤولیت دی، دې برخه کې دې د ښاروالۍ ریاسـت سره همکاري وکړي؛ ترڅو د یو سالم چاپیریال او زرغون ښار درلودونکي شو.

فراه ښاروالۍ رهبري ژمنه کوي، چې د شنو سیمو پراختیا ته به لا ډېره پاملرنه کوي او د زرغون چاپیریال په رامنځته کولو، کې خپلې هڅې نورې هم ګړندۍ کړي.

فراه ښار کې د بېلابېلو کسبګرو له کړنو څخه کنټرول او څارنه ترسره شوه

فراه ۵۳

د ښاري نظم راوستلو په موخه د فراه ښاروالۍ د مارکیټونو د تنظیـم مدیریـت د ښـار بېلابېلو برخو کـې د مختلفو اصنافـو له کړنو لکه تیل پلورونکو، ګاز پلورونکو، نانوایانو او نورو کسـبګرو له فعالیتونو څخه څارنه ترسره کړه، د دغې څارنې په بهیر کې ښـاري مقرراتو تـه د پاملرنې په موخه کسبګرو ته لازمې لارښوونې وشوې.

همداراز یو شـمېر هغه هټیوالو چې لـه مقرراتو څخه یې سرغړونه کړې وه، ځینو ته توصیه ورکول شوه او یوه نانوایي د قانون مطابق وتړل شـوه او هغه کسـانو تـه هم لازمې سپارښتنې وشوې چې د لارې بندښت لامل شوي و.

د فراه ښـاروالۍ رهبرۍ د ټولو کسـبګرو او اصنافو څخه غوښـتنه کـوي، ترڅو د ښـاري نظم د سـاتنې او بیو د کنټرول په برخه کې له ښاروالۍ سره همکاري وکړي.

ګردیز ښاروالۍ مشورتي بورډ غړو سره ناسته ترسره شوه

پکتیا ۵۴

ګردیز ښاروالۍ مشـورتي بورډ غړو سره د ګردیز ښاروال الحاج حبیب الله اخندزاده حامد په مشرۍ ناسته ترسره شوه.

ناسته کې ګردیز ښاروال د ښاروالۍ مشورتي بورډ غونډو کې د بورد غړو پر فعال شتون ټینګار وکړ او وې ویل، چې مشورتي بورډ راتلونکې ناستې د کړنلارې له مخې په ټاکلي وخت دایرېږي.

ناسـته کې د اجنډا اړوند، ګردیز ښـاروال مشورتي بورډ غړو ته سږکال پروژو په تړاو بشپړ معلومات ورکړل.

ښاروال وویل، سږکال ګردیز ښار کې پر ۲۵ پروژو عملاً کار روان دی، چـې ۲۰ پروژې د ملګرو ملتونو دفتر یونپس پر مټ، درې پروژې د ملګرو ملتونو بشري استوګن ځایونو دفتر یو ان هبیټاټ پر مټ تطبیق کیږي.

ښاروال په خبره سږکال ګردیز ښاروالۍ خپلو امکاناتو ته په کتو د ښـاروالۍ ملکیتونو بیا ځلې رغول، سړکونو داغ ګیري او ښاري پراختیا په برخه کې د سړکونو مسیرونو معلومولو پروژې په پلان کې لري، چې د بودجې تر منظوري وروسته به یې عملاً کارونه پیل شي.

ریاست شـاروالی انجیل ولایت هرات، براساس پلان های سال مالی ۱۴۰۴، برخی ساحات مشخص ولسوالی را خاک‌اندازی و آماده کشـت چمن و گل‌های تزئینی و فصلی کرده اسـت. این اداره متعهد به توسعه فضای سبز و محیط سالم برای شهروندان می‌باشد.

سمنگان ۵۵

کارکنان کمیته نظم شهری شاروالی شهر ایبک بازار بالا و پایین را بررسی کردند، پیاده روها را پاک‌کاری و آزاد نمودند، تخت ها، ریله و غرفه های خودسر دور کردند و به اصناف و دکانداران بازار بالا و پایین جهت مراعات نظم شهری توصیه های لازم کردند.

سمنگان ۵۶

ریاست شاروالی شهر سرپل به منظور تقویت شفافیت، پاسخ‌گویی و ارتقای اعتماد میان مردم و اداره شاروالی، کمیته رسـیدگی به شکایات را فعال سـاخته است و صندوق‌های مخصوص جمع‌آوری شکایات در ساحات مختلف شـهر نصـب گردید تـا شـهروندان بتوانند شکایات، پیشـنهادات و نظریات خویش را با شاروالی شریک سازند.

کمپاین تنظیم و ترتیب دست فروشان در شهر مزارشریف جریان دارد

به اسـاس هدایـت حافـظ عبدالرحمن همت، شـاروال مزارشریـف، کمپاین تنظیم و ترتیب دسـت فروشـان در ساحات ناحیه دوم شـهر مزارشریف توسط آمریت تنظیم و انکشاف مارکیت های شاروالی مزارشریف جریان دارد.

در جریـان کمپاین مذکور برای دسـت فروشـان مندوی سـاحات ناحیه دوم شهر توصیه گردید که سبب بی نظمی و بندش پیاده روهـا و سرک ها نگردند تا جهت رفت و آمد برای شهروندان تسهیلات فراهم شود.

همچنان در جریان کمپاین، کراچی های دسـت فروشان غیر متحـرک گردید تا دیگر نتوانند از جـای های تنظیم شده حرکت نمایند و سبب بندش پیاده روها و آزار و اذیت شهروندان نگردند.

برای کارمندان بخش تنظیف و سرسبزی شاروالی غوربند یونوفورم جدید توزیع گردید

آمریت شاروالی ولسـوالی غوربند ولایت پروان به خاطر نظم دهی و ایجاد هویت مشـخص کاری، برای کارمندان بخش تنظیف و سرسبزی، لباس‌های جدید کاری را توزیع نمود.

ملا محمداگل مسـلم شـاروال غوربند گفت: امروز یونوفورم جدید به کارمندان بخش تنظیف و سرسبزی توزیع گردید تا آنان با ظاهر منظم، هماهنگ و متناسـب با محیط شهری به خدمات ادامه دهند.

لښکرګاه ښار کې د دوو لويو سړکونو د پخولو لومړنۍ چارې جريان لري

د لښـکرګاه ښـاروالۍ د ۱۴۰۴ مالي کال د انکشـافي بودجې په مټ د ښاروال حافظ صديق صاحب په لارښوونه د لښـکرګاه ښـار د امنيه قومندانۍ د مخې سـړک او د فريزون سـړک د پخولـو لومړنۍ چارې چـې مخکې پيل شوې وې جريان لري.

د يادو سـړکونو لېول کاري همدارنګه قير ته اماده کولو او په اسـاسي ډول د رغولـو کار روان دی، چې په دوامداره توګه يـې د نظارت او ارزيابۍ امريـت او انجنيرۍ ټيم له لوري نظارت ترسره کيږي.

دا لوی سـړکونه چې اوس مهال يې لومړنۍ چارې روانې دي ډېر ژر به يې د اسـاسي رغولو چارې پيل او تر جوړولو وروسته به د ولسونو پرمخ پرانيستل شي.

د يادوني وړ ده چې لښکرګاه ښاروالي د دې ښار د لويو او کوچنيو سـړکونو پخولو او د ښـار د بېلابېلو برخو رغنيزې چارې روانې سـاتلي چې تر بشـپړې رغونې وروسـته به ښاريانو ته په واک کې ورکړل شي.

د محمودراقي ښـاروالۍ له خوا د صفايي محصول د تثبيت په موخه د استوګنيزو کورونو سروې پيل کړه

د ښـاري خدمتونو د ښـه والي او د صفايـي محصول د عادلانه تثبيـت په موخه، د محمودراقي ښـاروالۍ د دې ښـار په لومړۍ ناحيه کې د استوګنيزو کورونو سروې لړۍ پيل کـړې ده. دا اقدام د ښـاروالۍ د منظـم پلانونو په چوکاټ کې تـرسره کيږي، تر څو د صفايي محصول دقيقه تنظيم او ښاريانو ته هوسا‌ينه برابره شي.

د دې بهير په دوام کې، د ښـاروالۍ سروې ټيم د لومړۍ ناحيې اړوند زاغګيرا سيمه سروې کړه. د دې سروې موخه د صفايي محصول شـفاف او عادلانـه تثبيت دی، ترڅو د ښـاري خدمتونو د لا ښـه او اغېزمن وړانـدې کولو زمينه برابره شي.

لښکرګاه ښاروالۍ د ناحيو د شوراګانو سره ناستې ترسره شوې

د لښـکرګاه ښـاروال حافظ صديق صاحب پـه هدايت د لښکرګاه ښـار د دويمې ناحيې او د شپږمې ناحيې اړوند شوراګانو سره مجالس ترسره شول.

د شـوراګانو مجالسو کې د ښاري حکومتولۍ امر ملا فيض الله اخند، د دويمې ناحيې لـوی مدير او په ټولنيزو چارو کې د لښـکرګاه ښاروال اسـتازي حافظ عمير، د شپږمې ناحيې لـوی مدير سـميع الله احدي، د مجالسـو مدير نعمت الله وفا او د اړوند ناحيې د ګذر وکيلانو او متنفذينو ګډون درلود.

د ښاري حکومتولۍ امر ملا فيض الله اخند ګذر وکيلانو ته پـه خبرو کې وويل: تاسـو د دې سـيمې د اوسـيدونکو اسـتازي ياسـت، د دې اسلامي نظام او شرعـي امورو په هکله تاسـو بايد خلکو ته بشـپړ پوهاوی ورکړئ، په سيمه کې د خپلـو ناحيو او امنيتي حوزو د مسـؤولينو سره پوره همکاري وکړئ.

د دويمې ناحيـې لوی مدير حافظ عميـر پر ګذر وکيلانو ټينـګار وکـړ چـې د صفايي محصـول اړوند د سـيمې اوسيدونکو ته پوهاوی ورکړي او د ښاري اصولو د مراعتولو په برخه کې د خپل اړونده سـيمې اوسيدونکي وپوهوي.

د شـپږمې ناحيې لوی مدير سـميع اللـه احدي د خپل اړونـدې ناحيې ګذر وکيلانـو ته وويل: ستاسـو په ځينو سـاحو کې لښکرګاه ښاروالۍ اسـاسي کارونه ترسره کړي دي بايد ساتنه يې د سيمې او سيدونکي وکړي.

غزني ښـار د فروخي څلور لارې څخه تر کلاسبز پورې د برېښنايي ګروپونو ترميم ترسره شو

د غزني ښاروالۍ رياست د دويمې ناحيې اړوند د فروخي څلورلارې څخه تر کلاسـبز پورې د واټونو په اوږدو کې د برېښنايي ګروپونو ترميم او فعالول ترسره شول.

د دويمې ناحيې مدير مولوي شـجاع خان وايي چې دغه ګروپونه د وخت په تېرېدو خراب شوي وو چې اوس د ښاري خدمتونو مديريت تخنيکي کارکوونکو له لوري بشپړ ترميم پاکوالی او تخنيکي اصلاحات پرې ترسره شول.

نوموړی زياتوي د يادې سـيمې اوسـېدونکي به له دې وروسته په شپه کې د واټونو له تيارو سره مخ نه وي او د تګ راتګ امنيت او ښاري نظم لپاره به اسانتياوې رامنځته شي.

مولوي شـجاع خان وويل چې دا مهال د غزني ښار ډېری ناحيې روښانه شوې دي او د ښاروالۍ هڅه دا ده چې ټول ښار له رڼا برخمن وسائل شي.

نوموړي له ښاريانو هم وغوښتل چې د عامه شتمنيو ساتنه وکړي او هر ډول تخريبي عمل څخه ډډه وکړي.

غزني
۶۳